


# ځنګلـونه وژغـورئ دوی به تـاسـو وژغـوري

## ځنګلونه د خوړو او تغذيې حياتي سرچينه ده

د افغانسـتان پـه ختيـځ او سـويل ختيـځ کـې ځنګلونـو تـه نـږدې ميشـت ولسـونه پـه بشـپړه توګـه د خپلـو خـوړو د خونديتـوب لپـاره پـه ځـنګلي محصولاتـو متکـي دي. ځـنګلي سـبزيجات (لکـه پالـک، رواش او پنيـرک)، ميـوې (لکـه اننـاس، پسـته، بـادام، مرخنـۍ او بيـرې)، شـات، مرخيـړي او غوښـه نـه يـوازې ځنګلونـو تـه د ورسـېرمه ټولنـو اړتيـاوې پـوره کـوي بلکـې پـه ملـي او نړيوالـو بازارونـو کـې هـم پلـورل کيـږي، کـوم چـې د خلکـو اقتصـاد او بديـل معيشـت تـه وده ورکـوي. جلغـوزي، پسـته، چارمغـز او بـادام پـه هېـواد کـې دننـه او بهـر ډېـر سـتر بازارونـه لـري. ځـنګلي شـات د ځـايي خلکـو لپـاره د ښـو خـوړو يـوه برخـه ده او د عـادي شـاتو پـه پرتلـه خـورا غـذايي مـواد لـري، چـې پـه بـازار کـې يـې بيـه هـم لـوړه ده.




## ځنګلونه طبيعي درملتونونه دي

د نباتاتـو شـاوخوا ۵۰ زره ډولونـه چـې ډيـرى يـې پـه ځنګلونـو کـې وده کـوي د درملـو ارزښـت لـري. هينـګ، زيـره، شنشـوبى، ترخـه او د افغانسـتان ډيـرى نـور ځـنګلي نباتـات د هيـواد دننـه او بهـر کـې د دوديـز، يونـاني او عصـري طبـي درملـو پـه توګـه کـارول کيـږي. همدارنګـه ځنګلونـه د طبيعـي فلټرونـو پـه توګـه عمـل کـوي او د هـوا څخـه کاربـن ډاى اکسـايډ (CO٢) او نـور زيـان رسـوونکي ګـازونـه جذبـوي او تـازه او پاکـه هـوا چمتـو کـوي.

## سالم ځنګلونه مو له ناروغيو ساتي

ځنګلونـه پـه دوديـز ډول د هـوا او اوبـو څخـه د ککړتيـا پـه لـرې کولـو سره د ځارويـو او انسـانانو تـر مينـځ د ناروغيـو د ليـږد پـر وړانـدې د طبيعـي خنـډ پـه توګـه کار کـوي، خـو لکـه څنګـه چـې پـه ټـول هيـواد کـې د ځنګلونـو تخريـب دوام لـري، د ځارويـو څخـه خلکـو تـه د ناروغيـو د خپريـدو خطـر مـخ پـه ډيريـدو دى. د راپورونـو پـه اسـاس د ۱۹۶۰ کال راهيسـې لـه ۳۰ سـلنې څخـه ډيـرې نـوې ناروغـۍ د ځنګلونـو د لـه مينځـه وړلـو او لـه ځمکـو څخـه د نـورې ګټـې اخيسـتنې پـه اسـاس را مېنـځ تـه شـوې دي.

## ځنګلونه زموږ ذهني او فزيکي روغتيا ته وده ورکوي

پـه ځنګلونـو کـې د وخـت تېـرول مثبـت احساسـات ډيـروي او د دې ترڅنـګ ذهنـي فشـار، د وينـې فشـار، خفـګان، سـتړيا، اندېښـنې او تشـويش کمـوي. پـه ښـارونو کـې ونـې د موټرونـو او کارخانـو ککړونکـي ګـازونـه جذبـوي او ذرات لکـه دوړې، کثافـات او لوګـى فلټـر کـوي، چـې د تنفسـي ناروغيـو څخـه د ښـاريانو پـه ساتنه کـې مرسـته کـوي.

## ځنګلونه زموږ ژوند او معيشت ساتي او وده ورکوي

ځنګلونـه د بـاران اوبـه پـه تدريجـي ډول جذبـوي او زمـوږ کرونـدو تـه د ځمکـې د پاسـه او لانـدې اوبـو جريـان منظـم سـاتي. ځنګلونـه د ويالـو اوبـو تـه حاصلخيـزه خـاوره اضافـه کـوي او زمـوږ کرنيـز حاصـلات ډيـروي. همـداراز د اوبـو جرياناتـو پـه قابـو کولـو سره، ځنګلونـه د سـيلاب شـدت کمـوي او د خـاورې د تخريـب مخـه نيسـي.

افغانسـتان هـر کال د ځـنګلي مغـز لرونکـو ميـوو لـه صادراتـو څخـه څـه بانـدې ۵۰ ميليونـه ډالـر او د درملـو د بوټـو او مصالـو لـه صادراتـو څخـه شـاوخوا ۲۵ ميليونـه ډالـر عايـد ترلاسـه کـوي. يـوازې د هينـګ لـه صادرولـو، افغانسـتان پـه ۲۰۲۲ کال کـې شـاوخوا ۱۰۰ مليونـه ډالـر عايـد ترلاسـه کـړى دى.




## ځنګلونـه د بشريـت پـه وړانـدې د سـتر ګـواښ لکـه د اقليـم بدلـون سره مبـارزه کـې مرکزي رول لوبوي

روغ ځنګلونـه لـه هـوا څخـه د شـنو خونـو ګـازونـو (GHGs) پـه جذبولـو او د انسـانانو او ځارويـو لپـاره د تـازه هـوا يعنـې اکسـيجن پـه چمتـو کولـو سره د نړيوالـې تودوخـې پـه قابـو کولـو کـې مرسـته کـوي. ځنګلونـه ٦٦٢ مليـارده ټنـه کاربـن لـري، چـې پـه خـاوره او نباتاتـو کـې د نړيـوال کاربـن د زيرمـې لـه نيمايـي څخـه ډيـر دي. ځنګلونـه او ونـې د اقليـم د بدلـون لـه املـه د رامينځتـه شـوې تودوخـې او د هـوا د ډيـر بدلـون پـر وړانـدې د حايـل کيـدو پـه برخـه کـې هـم مرسـته کـوي. د مثـال پـه توګـه، د ودانيـو پـه شـاوخوا کـې پـه سـمه توګـه ځـاى پـر ځـاى شـوې ونـې هـوا سړه سـاتي او کولـى شي تـر ۳۰ سـلنې پـورې د هـوا د سـړوالي او تـودوالي اړتيـا کمـه کـړي، او انـرژي هـم خونـدي کـوي.

## ځنګلونه تر ګواښ لاندې دي او زموږ مرستې ته اړتيا لري

افغانسـتان د ۲۰۱۰-۱۹۷۸ کلونـو ترمنـځ لـه ۲۷۰ زره هکتـاره څخـه ډيـر ځنګلونـه لـه لاسـه ورکـړي او اصلـي لامـل يـې د ځنګلونـو او لرګيـو غيرقانـوني پرېکـول او قاچـاق دى. پـه ځنګلونـو کـې اورلګيدنـه د ځنګلونـو د لـه مېنځـه تللـو يـو بـل لامـل دى چـې د ځـايي خلکـو او مالدارانـو لـه املـه رامينځتـه کيـږي، کلـه چـې هغـوى پـه ځـنګل کـې د پخلـي لپـاره اور لګـوي او بيـا د سـيمې پرېښـودو پرمهـال يـې همداسـې پريـږدي. د ځنګلونـو ځمکـې پـه کرنيـزو ځمکـو او د اسـتوګنې پـه سـيمو بدلـول هـم د ځنګلونـو د تخريـب لامـل کيـږي.

**ځنګلـونه د طبيعي ايکوسيستـم او ژوند بنو ساتنه کوي، نو راځئ چې ځنګلـونو ته زيـان و نه رسـوو او ودې ورکـولـو ته يې ادامــه ورکــړو!**

Food and Agriculture Organization
of the United Nations

FAO Representation in Afghanistan
Kabul, Afghanistan
FAO-AF@fao.org

Some rights reserved. This work is available under a CC BY-NC-SA 3.0 IGO licence

©FAO, 2023
CC7428PS/1/09.23